مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۴/۲۶

# تړونونه

ز ه تړونونه لرم
له خپل ګودر او سمندر سره
د حجري کونج شاړ اوبخور سره
یو څوک خو وي چي د عیدي لپاره
کونړي سیند ته لپي اوښکي ور وړي
له هغه خوار سره د شور په تنهایي وژاړي
دا څویم کال دی چي تنها روان دی
یارانو خدای خبر د چا اسرې ته
په سوځند اور کي پریښی
دی به ګیله نکړي خو ما کي دی احساس پیدا شي
ز ه تړونونه لرم
د اسمایي غره
برم و قامت سره
د پېښور بالاحصار سره
اړ یم د خپل برم پوښتنه وکړم
او دا پوښتنه به همدی څواب کړي
څکه تاریخ کي د ماضي په اړه
له ابداتو لوی ښوونکي نشته
دوی خپلو خپ سینو کي
بلها کیسي زموږ د نیکونو لري
ز ه تړونونه لرم
له تاج محل سره
د مین تورو له خالق سره
د امریتا خواږه ساحر سره
فرض کړه په پټو سترګو
که د ظالم باچا حسینه مېرمن
د تاج محل تر لیدو وروسته هم
ساه کشوونکي وای



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د مزدورانو پولۍ شوې ګوتې
به يې په خپل سالو
ورتړلې نه وای
د مرګ خبره خو لا لرې ده
زه ترږونونه لرم
غواړم د بل نوروز
په عطرينۍ فضا کې
د بودا مخ کې پر ويدي سرود نڅا وکړم
او چې ښه ستړی شم
د امير بند اوبو کې غسل وکړم
راشم روضې ته په روښانې شپې کې
خدای ته سجده وکړم
بيخي اوږده سجده
چې بيا ترې پورته نشم
او ډوبېدونکې سپوږمۍ
ځان سره ما هم ډوب کړي

---

يادونه: زما او د ډله کليوالو يارانو اختر خو په کونړ او ننګرهار کې د سيندونو، ويالو، غرونو او کروندو له تنهايي سره و، له بېهوده شور او اضطراب لرې وم. همدې کايناتي طلسم ته مې پورتنۍ کرښې وليکلې.
د يو نيم درجن انځورونو ټول کريډيټ له خپل ماما (صميم سهار) سره دی!
چا سره مې چې د ليدلو او خبرو وعدې ماتې کړې، ومې بښئ! زه تنها وم او بېګارونه ډير...

سمسور ودان


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ